# په اوداسه کښې
# داوسيدو فضيلتونه

**04-May-2023**

هفته‌وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)



په 4 مئي کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# په اوداسه کښې د اوسيدو فضيلتونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د زړه او دماغو ګناهونه هم رژي
- اودس کله او څنګه شروع شو؟
- د اودس 4 فرائض ولې؟
- په اوداسه کښې د اوسيدو دنيائي فائدې

**پيشکش**

اَلْمَدِيْنَۃُ الْعِلْمِيَۃ (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبہ بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِیَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

پيرانِ پير، پير دستګير حُضُور غوثِ اَعظم شيخ عبد القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل ژوند يوه ډيره اوږده موده په مجاهدو كښې تيره كړه، كله چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بغداد شريف كښې عِلمِ دين حاصلولو، د هغوئي معمول وو چې د مدرسې سبقونه به ئې اولوستل نو د ځنګلونو په لور به وَتَلو، هلته به ئې سبق يادولو او په عبادتونو كښې به هم مصروف اوسيدلو، د هغه زمانې خبره ده، يوه ورځ حُضُور غوثِ اعظم شيخ عبد القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو غار سره نزدې يوه ګټه اوليدله، په هغه ګټه باندې يو درودِ پاک ليکلے شوے وو، ورسره دا هم ليکلے شوي وو چې دا درودِ پاک (کوم چې په ګټه باندې ليکلے شوے دے)، د ده په يو ځل لوستلو د 50 زره درود شريف ثواب ميلاويږي، حُضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه درود شريف اوليكلو او هغه به ئې لوستلو، وروستو يوه ورځ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په خوب كښې د خوږ آقا، د مكې مدينې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د هغه درود شريف په باره كښې پوښتنه اوكړه: (چې واقعي د هغه درود شريف په لوستلو د 50 زره درود شريف

ثواب ميلاويږي؟) سرکارِ عالي وقار، د مکې مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: نه، د هغه درود شريف په لوستلو 50 زره نه بلکه د 70 زره درود شريف ثواب ميلاويږي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت باندې کرم ته اوګورئ! کوم بنده چې يو ځل درود شريف اولولي، د روايتونو مطابق هغه ته 10 نيکئ ميلاؤيږي، 10 ګناهونه ئې معاف کيږي او 10 درجې ئې اوچتيږي- (2) دا کرم څومره عظيم دے چې يو ځل د درود شريف په لوستلو دومره ثواب ميلاويږي، بيا په دې باندې نور کرم دا دے چې ډير داسې درودونه مبارک دي، کوم چې صِرف يو ځل اولولې نو صِرف د يو درود شريف نه بلکه د زرګونو درودونو مبارکو ثواب ميلاويږي، په کتابونو کښې داسې ډير درودونه مبارک ليکلے شوي دي، د کومو په لوستلو چې د يو لاکھ درود شريف ثواب ميلاويږي او حضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې په ګټه باندې ليکلے شوے کوم درود شريف اوليدلو، خوږ آقا، د مکې د مديني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو او اوئې وئيل چې د ده په يو ځل لوستلو د 70 زره درود شريف ثواب ميلاويږي- سُبْحٰنَ الله!

کاش! چې مونږه د دغه کرم قدر اوکړو- زمونږه پير حُضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: اے د مُحَمَّد اُمَّته! د الله پاک شکر ادا کړئ چې مخکښينو اُمَّتونو به څومره عمل کولو، الله پاک د هغوئې په نسبت ستاسو نه په لږ عمل باندې رضا کيږي- نور فرمائي:

---

[1]... سعادة الدارين، صفحہ:256۔

[2]... سنن الکبری امام نسائی، کتاب صفة الصلاة، جلد:1، صفحہ:385، حديث:1220۔

جُمات لازمي اونيسئ او په نبئ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډېر زيات درود شريف لولئ! [1]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود ان پہ سدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پۓ غوث و رضا دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي- [2]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې به د يادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کوم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عشقِ رسول

د مسلمانانو دريم خليفه اَميرُ الْمؤمِنِين حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ځل يو ځائے ته اورسيدو او اوبه ئې راوغوښتلې او اودس ئې اوکړو، بيا يو دم مسکے شو او خپلو ملګرو ته ئې اوفرمائيل: [تاسو ته] پته شته چې زه ولې مُسکے شوم؟ بيا ئې ځپله د دې پوښتنې

[1]... الفتح الربانى، المجلس الثانى، صفحه:24-25 بتقدم وتآخر-

[2]... مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895-

جواب ورکړو او اوئې فرمائيل: ما يوه ورځ ليدلي وو چې سرکارِ نامدار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اودس کړے وو او د اودس کولو نه پس مُسکے شوے وو او صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ئې فرمائيلي وو: [تاسو ته] پته شته چې زه ولې مُسکے شوم؟ بيا مکي مدني مصطفٰے، احمدِ مجتبىٰ هم پخپله اوفرمائيل: چې کله انسان اودس کوي نو د مخ وينځلو سره د مخ او د لاسونو د وينځلو سره د لاسونو او په سر د مسح کولو سره د سر او د ښپو د وينځلو سره د ښپو ګناهونه رژيږي- (1)

| | |
|---|---|
| وُضُو کر کے خَنداں ہوئے شاہِ عثماں | کہا: کیوں تَبَسُّم بھلا کر رہا ہوں؟ |
| جوابِ سُوالِ مخاطب دیا پھر | کسی کی ادا کو ادا کر رہا ہوں |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مصطفٰے د ادا سره مينه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوکتل چې صحابه کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان به د سرکارِ ذي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هره يوه ادا او هر يو سُنَّت څنګه خپلولو- د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان د مبارک ژوند دا څانګړے او د عشق نه ډک اړخ دے، بس چې هغوئي ته څنګه پته اولګي چې دا کار خوږ آقا، د مديني والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کړے دے، بيا هغه کار کول، د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا خپلول لکه چې د هغوئي د ژوند نصبُ العَين (يعني مقصد) جوړ شوے وو- د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان سيرت اولولئ او اوګورئ! هغوئي به د مصطفٰے (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) په ادا خپلولو کښې دا سوچ نه کولو چې مونږه دا اوکړو نو مونږ ته به څه ميلاؤيږي، د هغوئي به د عشق نه ډک دا سوچ وو

---

1 ... مسند امام احمد ، جلد: 1، صفحه: 190، حديث: 423-

چې دا کار زمونږه محبوب (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) کړے دے، بس مونږ له هم کول دي؟ ولې کول دي؟ چې اوئې کړو نو څه به میلاؤیږي؟ که نه ئې کوؤ نو څه نقصان به وي؟ په دې خبرو کښې به هغوئې نه راتلل-

❀ د مسلمانانو وړومبے خلیفه حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائې: په کوم امر چې به آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمل کولو زه هغه د کولو نه بغیر نه پریږدم، که چرې زه د هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حال نه څه امر پریږدم نو زما سره ویره ده چې زه د سُنَّت نه مُنحرف شم-(1)

| | |
|---|---|
| اللہ اللہ یہ شوقِ اتباع | کیوں نہ ہو صدیقِ اکبر تھے |

❀ د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائې: د کله نه چې ما سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بغیر د چڼ کړو وړو په ډوډۍ خوړلو لیدلے دے نو د هغې نه پس چرې هم زما د پاره د چڼ کړے شوؤ وړو ډوډۍ نه ده پخه کړے شوې-(2)

❀ د مسلمانانو دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یوه ورځ د چیلۍ د مخکښینۍ خپې غوښه را اوغوښته او د جُمات په دروازه کښې کښیناستو او اوئې خوړله، بیا ئې د تازه اودس کولو نه بغیر لمونځ ادا کړو، بیا ئې اوفرمائیل: یوه ورځ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې ځائے باندې ناست وو او د چیلۍ د مخکښینۍ ښپې غوښه ئې خوړلې وه، بیا ئې هم داسې کړي وو، څکه ما هم د هغوئې ادا، ادا کړه-(3)

---

[1]... بخاری ، کتاب : فرض الخمس، باب فرض الخمس، صفحه: 793، حدیث : 3093۔

[2]... طبقات ابن سعد ، ذکر طعام رسول اللہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ... الخ، جلد:1 ، صفحه :301 ۔

[3]... مسند امام احمد ، جلد: 1، صفحه: 198، حدیث: 449۔

❁ هم دغه شان د صحابۀ كرامو عليهمُ الرّضوان ډيرې واقعې دي، يو ځل حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ مكې مكرمې ته روان وو، په لاره كښې يوه وَنه راغله، هغوئي قصداً عمداً د هغې په ښاخونو كښې خپله عمامه [پټکے] شريف اونخلولو، بيا اودريدو او هغه ئې ترې راخلاص كړو او مخكښې روان شو- خلقو ترې د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: يو ځل رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې ځائے تيريدو نو د دې وَنې ښاخونو د هغوئي عمامه شريف په مينه رانيولې وه (يعنې عمامه مبارك ئې په ښاخ كښې انختې وه) او هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اودريدلے وو او خپله عمامه شريف ئې راخلاصه كړې وه (بس ما هُغه اداء ادا كوله) - (1)

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہر صحابیِٔ نبی! | جنّتی! جنّتی! | سب صحابیات بھی! | جنّتی! جنّتی! |
| چار یارانِ نبی! | جنّتی! جنّتی! | حضرت صدیق بھی! | جنّتی! جنّتی! |
| اور عمر فاروق بھی! | جنّتی! جنّتی! | عثمان غنی! | جنّتی! جنّتی! |
| فاطمہ اور علی! | جنّتی! جنّتی! | ہیں حسن حسین بھی! | جنّتی! جنّتی! |
| والدین نبی! | جنّتی! جنّتی! | ہر زوجۂ نبی! | جنّتی! جنّتی! |
| اور ابوسفیان بھی! | جنّتی! جنّتی! | ہیں معاویہ بھی! | جنّتی! جنّتی! (2) |

الله پاك دې د صحابۀ كرامو عليهمُ الرّضوان په وسيله باندې مونږ له هم د سنتو زده كولو او په دې باندې د عمل كولو توفيق راكړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... نور الايمان بزيارة آثار حبيب الرحمٰن ، صفحه:15-

[2]... وسائلِ فردَوس ، صفحه:53-

## د زړه او دماغو ګناهونه هم رژيږي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ واقعه واوريدله، هغوئي اودس اوکړو، بيا ئې مُسکا اوکړه او يو حديثِ پاک ئې بيان کړو چې کله انسان اودس کوي نو د مخ وينځلو سره د مخ او د لاسونو د وينځلو سره د لاسونو او د سر د مسح سره د سر او د ښپو د وينځلو سره د ښپو ګناهونه رژيږي-

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه: چې اودس د ګناهونو د وينځلو نُسخه ده- د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه د دې قِسمه مفهوم د يو حديث شريف لاندې فرمائي: ياد ساتئ! دلته صِرف د هغه اندامونو (يعني د مخ، لاسونو، سر او ښپو) د ګناهونو معافي مُراد نه ده بلکه د اودس په برکت سره ټول تر دې پورې چې د زړه او د دماغو ګناهونه هم معاف کيږي- (1) مفتي صاحب رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه نور فرمائي: دلته د ګناهونو نه واړه ګناهونه مُراد دي ځکه چې غټ ګناهونه د توبې نه بغير او د بنده ګانو حقونه د صاحبِ حق د معافئ نه بغير نه معاف کيږي- مطلب دا دے چې کوم ګس ښه اودس کوي، د هغه د ټولو اندامونو (واړه) ګناهونه د دې اوبو سره ځي- (2)

## د امامِ اعظم د نظر کمال

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د اودس کولو سره ګناهونه رژيږي، په دې باره کښې د ايمان نه ډکه يوه واقعه واورئ! هم دا رنګه حضرت علامه عبد الوهاب شعراني رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه فرمائي: يو ځل امامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه د کوفې د لوئې جُمات د اودسونو ځائے ته تشريف يوړلو نو يو

---

[1]... مرآة المناجيح ، جلد:1 ، صفحہ: 297 بتغير قليل ـ

[2]... مرآة المناجيح ، جلد:1 ،صفحہ: 234 بتغير قليل ـ

ځلمے ئې په **اودس** کولو اوليدو، د هغه نه په اودس (کښې د استعمال شوؤ اوبو) څاڅکي څڅيدل- هغوئي اوفرمائيل: اے ځويه! **د مور پلار د نافرمانئ** نه توبه کړه- هغه فوراً عرض اوکړو: ما توبه کړله- د يو بَل ګس په اودس (کښې د استعمال شوؤ اوبو) څاڅکي چې ئې اوليدل، هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هغه ګس ته اوفرمائيل: اے زما وروره! تهٔ د **زِنا** نه توبه کړه- هغه عرض اوکړو ما توبه کړه- د يو بَل ګس د اودس [د اوبو] څاڅکي چې ئې اوليدل نو هغه ته ئې اوفرمائيل: **د شرابو څښلو او د سندرو باجو اوريدو** نه توبه کړه- هغه عرض اوکړو: ما توبه کړه- په حضرت امام اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه باندې به د ګشف له وجې چونکه د خلقو عُيُوب ظاهريدل ځکه هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د الله پاک په دربار کښې د دې کشف د ختميدو دُعا اوکړه: الله پاک دُعا قبوله کړه په کومې چې هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ته د اودس کوونکو د ګناهونو رڅيدل په نظر راتلل بند شو- (1)

## عيب مه لټوئ!

**خوږواو محترمو اسلامي وروڼو!** د ايمان نه د ډکې دې واقعې نه مونږ ته 2 مدني ګلونه د زدکړې د پاره ميلاؤ شول (1): يو خو دا چې د اودس په برکت سره ګناهونه رژيږي (2): دويم مدني ګُل دا هم معلوم شو چې د الله پاک نيکانو بنده ګانو به د نورو خلقو عيبونه ليدل نه خوښول، اوګورئ! امام اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ته به د کرامت په طور باندې د نورو خلقو عيب په نظر راتللو نو هغوئي دُعا اوکړه چې دا کرامت د هغوئي نه واپس واخستلے شي-

---

[1]... ميزان الكبرىٰ، كتاب الطہارة، جز:1، صفحہ: 130۔

آه! اوس زمونږه حال بالکل اُلټا دے، الله والوؤ به کوشش کولو چې هغوئي ته عيب ښکاره نشي، اوس خلق د نورو عيبونه لټوي، کوشش کولے شي چې په څه طريقه د فلانکي عيب په نظر راشي او زه هغه خلقو ته اووايم او هغه بدنام کړم- الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم اوکړي- کاش! د نورو عيب لټولو والا نه بلکه په عيبونو باندې د پردې اچولو والا جوړ شو-

| | |
|---|---|
| عیبوں کو ڈھونڈتی ہے فقط عیب جُو کی نظر | جو خوش مزاج ہیں حسن و کمال دیکھتے ہیں |

## اودس کله او څنګه شروع شو؟

يو ځل د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت علي المرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ طواف کولو، په دې وخت کښې چا د هغوئي په اوګه باندې لاس کيښودو او عرض ئې اوکړو: عالي جاه! يوه پوښتنه کووم- حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خاموشي اختيار کړه او طواف ئې جاري اوساتو، د طواف 7 چکرې ئې پوره کړې، بيا ئې په حطيمِ کعبه کښې د طواف 2 رکعتونه ادا کړل، بيا ئې اوفرمائيل: اَيْنَ السَّائِل؟ هغه پوښتنه کوونکے چرته دے؟ هغه ګس حاضر شو- اوئې فرمائيل: اوس پوښتنه اوکړه! هغه عرض اوکړو: اَسْاَلُكَ عَنْ بَدْءِ الْوُضُوْءِ كَيْفَ كَانَ وَاَيْنَ كَان؟ يعني دا اوفرمائيئ! چې اودس کله او څنګه شروع شو؟

اوس واورئ! د بابِ مَدِينةُ جواب---!! مولا علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوفرمائيل: کله چې الله پاک فرښتو ته فرمائيلي وو:

| | |
|---|---|
| اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً ؕ (پاره:1، سورۂ بقره:30) | ترجَمهٔ کنزُ الایمان: زه په زمکه کښې خپل نائب جوړولو والا يم- |

په دې باندې فرښتو عرض اوکړو:

| | |
|---|---|
| اَتَجۡعَلُ فِيۡهَا مَنۡ يُّفۡسِدُ فِيۡهَا وَيَسۡفِكُ الدِّمَآءَ ۚ (پاره:1، سورۀ بقره:30) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: آيا داسې به نائب جوړوې کوم چې به په دې کښې فساد خپروي او وينه به توئي کوي- |

(فرښتو دا خبره د اعتراض په طور باندې نه وه کړې، هغوئي صرف ځان د حکمت نه خبرولو او دا عرض ئې کولو چې مولیٰ !مونږه ستا پاکي بيانوؤ، ستا حمد او ثنا کوؤ، مونږ دې خليفه مقرر کړے شي د انسان په خليفه جوړولو کښې څه حکمت دے؟) په دې باندې الله پاک اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اِنِّیۡۤ اَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۰﴾ (پاره:1، سورۀ بقره:30) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: ما ته معلوم دي کوم چې تاسو ته نه دي معلوم- |

د رَبِّ کائنات دا جواب چې ئې واوريدو نو فرښتې ويريدې، هغوئي ته داسې اولګيده چې مونږه د الله پاک په بارګاه کښې ډير جُراءَت کړے دے، ځکه هغوئي د الله پاک د ويرې نه د الله پاک د عرش طواف شروع کړو- په دې باندې الله پاک اوفرمائيل: اے فرښتو آيا تاسو زما مغفرت او رضا غواړئ؟ عرض ئې اوکړو: آؤ جي مولیٰ! زمونږه ستا د مغفرت او رضا ميلاؤيدو نه زيات د بَل هيڅ څيز شوق نشته- په دې باندې الله پاک اوفرمائيل: د عرش د لاندې يو نهر دے، کوم ته چې نَهرُ الحَيَوَان وئيلے شي، هلته لاړې شئ! فرښتې هلته اورسيدې- الله پاک اوفرمائيل: لاسونه وينځئ! فرښتو لاسونه وينځل- الله پاک اوفرمائيل: تَمَضۡمَضُوا ثَلَاثًا 3 ځل خُلې ته اوبه واچوئ- فرښتو خُلې ته اوبه واچولې- الله پاک اوفرمائيل: اِسۡتَنۡشِقُوۡا ثَلَاثًا 3 ځل په پوزه کښې اوبه واچوئ! فرښتو هم

داسې اوکړل- بيا ئې اوفرمائيل: مخونه وينځئ! فرښتو مخونه وينځل- اوس حکم اوشو: د سنګلو سره لاسونه وينځئ! فرښتو لاسونه هم وينځل- بيا حکم اوشو: د سر مسح اوکړئ! د سر مسح ئې هم اوکړه- په آخره کښې حکم اوشو: اوس ښپې هم وينځئ! فرښتو ښپې هم وينځلې-

(دا ټول اندامونه د فرښتو هم دي خو څنګه دي، په دې ا الله پاک ښه پوهيږي) بهر حال! څنګه څنګه چې د الله پاک حکم اوشو، فرښتو هم هغه شان اوکړل، بيا الله پاک اوفرمائيل: اوس داسې اووائيئ! سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَ اَتُوْبُ اِلَيْكَ فرښتو هم داسې اووئيل- کله چې ئې هر څه اوکړل نو فرښتو عرض اوکړو: اے رَبُّ العالمينه! دا مونږ چې څه اوکړل دا څه دي؟ الله پاک اوفرمائيل: اے فرښتو! چې کوم ايمان والا هم دا اوکړي لکه څنګه چې تاسو اوکړل، زه به هغه ته مغفرت او بخښنه عطا کووم، کله چې هغه لاس ووينځي نو د هغه د لاسونو، چې خُلې ته اوبه واچوي نو د خُلې د دننه، چې په پوزه کښې اوبه واچوي نو د پوزې، چې مخ ووينځي نو د مخ، چې ښپې ووينځي نو د ښپو ګناهونه رژيږي اګر چې د زمکې نه تر آسمانه پورې ولې نه وي او کله چې هغه د سر مسح کوي نو زما رحمت هغه پټ کړي- فرښتو عرض اوکړو: اے الله پاکه! آيا دا زمونږ د پاره خاص دے؟ اوئې فرمائيل: دا ستاسو د پاره هم دے او څوک چې زه خليفه جوړووم (يعني د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام) او د هغه د اولاد د پاره هم دا فضيلت دے- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د الله پاک څومره لوئي کرم دے- کاش! چې

---

1... سلوة العارفين، باب فضيلة الوضوء، صفحه: 170 ملتقطًا-

زمونږه د ګناهونو د معافۍ، د مغفرت او د بخښنې او د الله پاک د رضا دولت نصيب شي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

| | |
|---|---|
| تُو بس رہنا سدا راضی نہیں ہے تابِ ناراضی | تُو نا خوش جس سے ہو برباد ہے تیری قسم مولیٰ! |
| عطا کر عافیت تُو نزع و قبر و حَشر میں یاربّ | وسیلہ فاطِمہ زَہرا کا کر لطف و کرم مولیٰ![1] |

## د صِدِّيق د اولاد په وسيله په اُمَّت باندې کرم

د بخاري او مسلم روايت دے، يو ځل خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره په سفر وو، د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم سفر کولو، په لاره کښې په يو ځائے کښې د حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د غاړې مبارکې خار ورک شو، هم دا رنګه د لښکر د پاره قافله اودرولے شوه، شپه شوې وه، تياره خوره وه، ځکه دغه شپه هم په دغه ځائے کښې تيره کړے شوه، سبا چې کله د سحر د لمانځه وخت شو نو اودسونه کول وو خو دلته خو هډو اوبه نه وې- په دې موقع باندې د 6 سيپارې، سُوره مائده 6 نمبر آيت نازِل شو، الله پاک اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى | ترجَمهٔ کنزُ الايمان: اے ايمان والؤ چې کله د لمونځ د پاره اودريدل غواړئ نو خپل مخونه وينځئ او د سنګلو پورې لاسونه او په سرونو باندې مسح اوکړئ او د ګِيټو پورې |

[1]... وسائلِ بخشش ، صفحہ: 98 ملتقطاً۔

الۡكَعۡبَيۡنِ ؕ وَاِنۡ كُنۡتُمۡ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوۡا ؕ وَاِنۡ كُنۡتُمۡ مَّرۡضٰٓى اَوۡ عَلٰى سَفَرٍ اَوۡ جَآءَ اَحَدٌ مِّنۡكُمۡ مِّنَ الۡغَآٮِٕطِ اَوۡ لٰمَسۡتُمُ النِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُوۡا مَآءً فَتَيَمَّمُوۡا صَعِيۡدًا طَيِّبًا فَامۡسَحُوۡا بِوُجُوۡهِكُمۡ وَاَيۡدِيۡكُمۡ مِّنۡهُ ؕ مَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ حَرَجٍ وَّلٰـكِنۡ يُّرِيۡدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهٗ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۝

(پاره:6، سورۂ مائده:6)

ښپې وينځئ او که چرې تاسو ته د لامبلو حاجت وي نو ښه پاک شئ او که چرې تاسو بيماران ئيئ يا په سفر کښې ئيئ يا په تاسو کښې څوک د قضائے حاجت نه راغلے يا تاسو د زنانوو سره کور والے اوکړو او په دې صورتونو کښې مو اوبه بيا نه موندلې نو په پاکه خاوره باندې تيمم اوکړئ نو د خپل مخ او لاسونو په دې سره مسح اوکړئ الله نه غواړي چې په تاسو باندې څه تنګي کيږدي آؤ دا غواړي چې تاسو ښه پاک کړي او خپل نعمت په تاسو باندې پوره کړي چې که چرته تاسو احسان اومنئ-

په دې آيت مبارک کښې د اوبو نه ميلاؤيدو په شکل کښې د تيمم اجازت ورکړے شو، په دې باندې صحابۂ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان اوفرمائيل: مَا هِيَ بِاَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ اَبِي بَكْرٍ يعنې اے د ابو بکر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اولاده! دا ستاسو وړومبے برکت نه دے (مطلب دا دے چې مسلمانانو ته ستاسو نه ډير برکتونه رسيدلي دي) - [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** هسې خو په دې آيت مبارک کښې ډير زيات مدني ګلونه دي، خاص طور دې کښې 2 خبرې بيان شوې: (1): د اوداسه 4 فرائض بيان شول (2): په

[1]... بخاری ، کتاب التيمم ، باب التيمم ، صفحه :155 ، حديث:334 خلاصةً۔

اوبو سره د اودس کولو او که اوبه میلاؤ نه شي نو په خاورې سره د تیمم کولو حکم اوکړے شو۔

د دې دواړو خبرو په باره کښې حُجَّةُ الاِسلام امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډېر ښکلي مدني ګلونه راکړي دي، راځئ چې واورو:

## د دوزخ اور مړ کیږي

امام غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: شریعت د پاکئ (یعني اودس او غُسل) د پاره 2 څیزونه مقرر فرمائیلي دي: (1): اوبه (2): خاوره۔ په اوبو باندې مونږه اودس او غُسل کوؤ، په خاوره باندې تیمم کوو۔ امام غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: لږ غور اوکړئ! په دُنیا کښې دا دواړه څیزونه د اور مړ کولو د پاره پکار راځي، چې په اور باندې اوبه واچوې نو اور مړ شي، چې اوبه نه وي نو خاوره پرې واچوه، په دې باندې هم اور مړ کیږي۔ **معلومه شوه: چې اوبه او خاوره دواړه د اور مړ کولو د پاره په کار راځي، څکه چې کله مومن انسان د دې په ذریعه باندې اودس او غسل کوي نو د دې (په برکت به** اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم**!) د دوزخ اور مړ شي۔** (1)

دلته د الله پاک یو بَل کرم ته اوګورئ! **د اور کار دے: سیزل۔ د اوبو کار دے: مړ کول۔** د دنیا دا اور کوم چې د دوزخ د اور نه څو درجې کم اور والا دے، دا اور که چرې مړ کول وي نو زیاتې اوبه پکار وي، که چرې اور زیات وي، اوبه کمې وي نو اوبه به اوسوزي، اور به نه مړ کیږي خو د الله پاک د کرم نه قربان شم! د دوزخ اور د دنیا د اور

[1]... سلوة العارفین، باب الطہارة، صفحه: 164۔

نه څو درجې زيات طاقت ور دے، د اودس د پاره چې کومې اوبه استعمالیږي هغه ډيرې کمې وي څو الله پاک په خپل کرم باندې په دې کمو اوبو باندې د دوزخ زيات اور مړ کوي۔

## د اوداسه صرف 4 فرائض ولې؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د اوداسه 4 فرائض دي: (1): د سنګلو سره لاسونه وينځل (2): مخ وينځل (3): د سر مسح کول (4): د ګيټو سره ښپې وينځل۔ په اوداسه کښې صرف دا 4 فرائض ولې کيښودے شو؟ امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې يو حکمت بيانوي او فرمائي: د قيامت په ورځ باندې (بنيادي) عذابونه هم څلور دي: (1): مخ توريدل، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّ تَسْوَدُّ وُجُوْهٌ ۚ<br>(پاره:4، سورۂ آلِ عمران:106) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: په کومه ورځ چې به بعضې مخونه پړقيږي او بعضې مخونه به تور وي۔ |

(2): عمل نامه په کڅ [کيڼ] لاس باندې ميلاؤيدل، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿۲۵﴾<br>(پاره:29، سورۂ الحاقة:25) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: او هغوئې کومو ته چې به عمل نامه په کڅ [کيڼ] لاس کښې ورکړے شي وائي به هئ په څه طريقه ما ته زما عمل نامه نه را کړے کيده۔ |

(3-4): د سر او ښپو نه نيول او دوزخ ته غورځول، په سورۂ رحمان کښې دي:

يُعۡرَفُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ بِسِيۡمٰهُمۡ فَيُؤۡخَذُ بِالنَّوَاصِيۡ وَ الۡاَقۡدَامِ ﴿۴۱﴾
(پاره:27، سورۀ رحمٰن:41)

ترجَمۂ کنزُ الايمان: مجرمان به د خپلو مخونو نه پيژندلے شي نو د تندي او ښپو نه به نيولے شي او دوزخ ته به غورځولے شي۔

لکه چې الله پاک فرمائي: اے زما بنده ګانو! په اوداسه کښې مخ وينځئ د پاره د دې چې د قيامت په ورځ باندې ستا مخ نه توريږي بلکه زه ستاسو مخ اوپړقووم ❀ خپل لاسونه وينځئ د پاره د دې چې د قيامت په ورځ تاسو ته عمل نامه په ګڅ لاس نه بلکه په ښي لاس کښې درکړے شي ❀ په خپل سر باندې مسح کوئ د پاره د دې چې تاسو د تندي نه د نيولو سره دوزخ ته اونه غورځولے شئ بلکه ستاسو په سر باندې جنتي تاج کيښودے شي ❀ اے زما بنده ګانو! ښپې وينځئ د پاره د دې چې ستاسو په ښپو کښې د دوزخ بيړئ نه پريوځئ، نه په پل صراط باندې ستاسو ښپې اونه خوئيږي بلکه تاسو په آرام سره په پلِ صراط تير شئ او جنت ته لاړ شئ! [1]

اے عاشقانِ رَسُول! مونږه واوريدل چې د اوداسه څومره عظيم برکتونه دي، د اودس کولو سره ګناهونه رژيږي، ❀ د دې په برکت سره به اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيم! د قيامت په ورځ عمل نامه په ښي لاس ميلاؤيږي ❀ مخ به نه توريږي بلکه په نُور باندې به پړقيږي ❀ په پل صراط باندې به ثابت قدمي نصيب کيږي او اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيم! جنت ته به تلل نصيب کيږي۔

څکه مونږ له پکار دي چې مونږه په اودس کښې اوسيدل خپل عادت جوړ کړو۔ مونږه

[1]... سلوۃ العارفين،باب فضيلة الوضوء، صفحه: 171۔

سستي کوۀ، کاش! چې مونږه دا سستي ختمه کړو، په اودس کولو کښې چمتو شو، چې کله اودس مات شي، زر بيرته د اودس کولو عادت جوړ کړو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! دا عارضي خواري به د قيامت په ورځ د آسانو ميلاؤيدو ذريعه جوړه شي! د نور ترغيب د پاره د اوداسه په فضيلتونو باندې حديثونه اورو:

## د اوداسه په فضيلتونو باندې 3 حديثونه

(1): حضرت ثوبان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: سيدها اوسئ خو تاسو به دا اونکړے شئ او ياد ساتئ چې ستاسو بهترين عمل لمونځ دے او د اودس حفاظت مؤمن کوي۔ [1] (يعنې هميشه په اودس کښې اوسيدل يا هميشه صحيح اودس کول د کامل مؤمِن پيژندګلو ده۔) (2): د مدينې تاجدار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته اوفرمائيل: **ځويه!** که چرې تۀ تَل په اودس کښې د اوسيدو وَس لرې نو هم داسې کوه ځکه چې مَلَکُ الْمَوت چې د کوم بنده روح د اودس په حالت کښې قبض کوي د هغه د پاره **شهادت** ليکلے شي۔ [2] (3): په يو حديث شريف کښې دي: په اودس کښې اوده کيدونکے د روژې نيولو سره د عبادت کوونکي په شان دے۔ [3]

سُبْحٰنَ اللّٰه! الله پاک دې مونږ ته هميشه په اودس کښې د اوسيدو توفيق راکړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

---

[1]... ابنِ ماجه، کتاب الطهارة وسننها، باب المحافظة على الوضوء، صفحه:58، حديث: 277۔

[2]... شُعَبُ الْاِيمان، جلد:3، صفحه:29، حديث:2783۔

[3]... کنز العمال، کتاب الطهارة، باب الاول فی فضل ...الخ، جلد:5 ، جز:9، صفحه:123، حديث:25994۔

## په اودس کښې د اوده کيدو فضيلت

په قوتُ القُلُوب کښې دي: مصطفٰے جانِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې بنده په اودس کښې اوده شي د هغه روح د عرش په لور وړلے کيږي نو د هغه خوبونه رښتوني وي- که چرې په اودس کښې اوده نه شي نو د هغه روح د رسيدو توان نه لري او هغه د پريشانئ خوبونه ويني کوم چې رښتوني نه وي- (1)

## د مصيبتونو نه د حفاظت نُسخه

الله پاک حضرت موسىٰ کليمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام ته اوفرمائيل: **اے موسىٰ!** که چرې بے اودسه تا ته څه مصيبت اورسي نو ېځپله خپل ځان ملامته کړه- (2)

الله! الله! معلومه شوه: چې په اودس کښې د اوسيدو په برکت سره د مصيبتونو نه حفاظت کيږي- کاش! چې مونږه په اودس کښې اوسيدونکي جوړ شو-

## هميشه په اودس کښې اوسيدل د اسلام سُنَّت دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په اودس کښې اوسيدل مستحب (يعنې د ثواب کار دے)- په فتاوىٰ رضويه کښې دي: هميشه په اودس کښې اوسيدل د اسلام سُنَّت دے- (3)

## په اودس کښې د اوسيدو 7 ديني فائدې

امام اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: بعضې عارِفينو (رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم)

[1] ... قُوْتُ الْقُلُوب، الفصل الثالث عشر، جلد:1، صفحه:67-

[2] ... شُعَبُ الْاِيمان، جلد:3، صفحه:29، حديث:2782-

[3] ... فتاوىٰ رضويه، جلد: 1، صفحه: 944 ملقتطًا -

اوفرمائيل: څوک چې هميشه په اودس کښې اوسي الله پاک به هغه له 7 فضيلتونه ورکړي (1): فرښتې به د هغه په صحبت کښې رغبت کوي (2): قلم به د هغه نيکئ ليکي (3): د هغه اندامونه به تسبيح کوي (4): د هغه نه به تکبيرِ اُولیٰ نه قضا کيږي (5): چې کله اوده کيږي الله پاک به څه فرښتې راليږي چې د پيريانو او انسانانو د شر نه د هغه حفاظت کوي (6): د مرګ سختې به په هغه باندې آسانيږي (7): چې تر څو پورې په اودس کښې وي د الله پاک په امان کښې به وي-[1]

دے شوقِ تلاوت دے ذَوقِ عبادت | رہوں باوضو میں سدا یاالٰہی[2]

## په اودس کښې د اوسيدو دنيائي فائدې

اے عاشقانِ رَسُول! په اودس کښې د اوسيدو چې چرته ديني فائدې دي، د دې سره سره ئې ډيرې زياتې دنيائي فائدې هم دي مثلاً ❀ په اودس کښې د اوسيدو په برکت د ډيرو بيمارو نه حفاظت کيږي ❀ چې اودس اوکړې او د کوم کار د پاره د کور نه ووځې، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! هغه کار به کيږي-[3] ❀ په اودس کښې د اوسيدو په برکت سره ځان اعتماد هم ميلاؤيږي ❀ او په اودس کښې د اوسيدو په برکت سره رزق هم زياتيږي- آؤ جي! په حديثِ پاک کښې دي: هميشه په اودس کښې اوسئ، ستاسو په رزق کښې به فراختيا راځي-[4]

---

[1] ... فتاویٰ رضويه، جلد: 1، صفحه: 945-

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 102-

[3] ... بہشت کی کنجیاں ، صفحه :60 بتغير قليل ۔

[4] ... جامع الاحاديث، جلد:19، صفحه:406، حديث:14922-

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے---!! لکه چې په اودس کښې د دُنيا او آخِرت خيرونه کيښودے شوي دي ❁ که په رزق کښې زياتوالے غواړې، نو په اودس کښې اوسه ❁ که د مصيبتونو نه حفاظت غواړې، په اودس کښې اوسه، ❁ که ښه ښه خوبونه ليدل غواړې، په اودس کښې اوده کيږه! ❁ که نيکئ غواړې، په اودس کښې اوسه ❁ که د نيک لمونځ ګزاره جوړيدو خواهش دے، تکبيرِ اُولىٰ غواړې، په اودس کښې اوسه ❁ که د قيامت په ورځ عمل نامه په ښي لاس کښې غواړې، په اودس کښې اوسه! ❁ که د قيامت په ورځ د پرقيدونکي مخ خواهش لرې، په اودس کښې اوسه! ❁ که په پل صراط ثابت قدمي غواړې، په اودس کښې اوسه---!! غور اوکړئ هغه کوم يو نعمت دے، کوم چې په دې آسانه نيکئ کښې نشته- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! اودس نايابه نعمت دے- الله پاک دې مونږ له په اودس کښې د اوسيدو توفيق راکړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## اودس او سائنس

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! اسلام مونږ له په سوؤنو کاله مخکښې د اودس تعليم راکړے دے، اوس د سائنس دور دے نو سائنس هم د اودس فائدې منلې دي- د يو صاحب بيان دے: چې ما په بليجيم کښې د يونيورسټئ يو غير مسلمه طالبِ علم ته د اسلام دعوت ورکړو- هغه پوښتنه اوکړه، په اودس کښې څه څه سائنسي حکمتونه دي؟ زما سره جواب نه وو- هغه مې د يو عالِم خوا له بوتلو خو د هغه سره هم د دې معلومات نه وو- تر دې پورې چې سائنسي معلومات لرونکي يو کَس هغه ته د اودس ډيرې خوبيانې بيان کړې خو

د خټې د مسح په حکمت ښودلو کښې هغه هم ناکامه شو- هغه غير مسلمه ځلمے لاړے- څه موده پس راغلے او اوئې وئيل: زمونږه پروفيسر په ليکچر کښې اووئيل: **که چرې د خټ په شا او اړخونو باندې هره ورځ د اوبو يو څو څاڅکي اوکړے شي نو د ملا د تير د هډوکي او د حرام مَغز د خرابئ نه د پيدا کيدونکو مرضونو نه تحفظ حاصليږي-** دا چې مې واوريدل نو په اودس کښې په خټ د مسح کولو په حکمت باندې پوهه شوم ځکه زه مسلمانيدل غواړم او هغه مسلمان شو-[1]

## د غير مسلمه سائنسدان ډير نا اشنا انکشاف

په مغربي ملکونو کښې د مايوسئ يعنې د (***Depression***) مرض په ترقئ باندې دے، دماغ فيل کيږي، د پاګل خانو شميره زياتيږي- د نفسياتي مرضونو ماهرانو له مريضان ځي راځي- د مغربي جرمني ډپلومه لرونکے يو پاکستانے فِزيو تهراپسټ وائي: په مغربي جرمني کښې يو سيمينار اوشو د کوم موضوع چې وه **د مايوسئ** (***Depression***) **علاج د دوايانو نه علاوه په نورو کومو طريقو سره ممکن دے-** يو ډاکټر په خپله مقاله کښې نا اشنا انکشاف اوکړو چې ما د ډپريشن د يو څو مريضانو هره ورځ 5 ځله خُلې وينځلې څه موده پس د هغوئي بيماري کمه شوه- بيا مې هم داسې د مريضانو د دويم ګروپ هره ورځ 5 ځله لاسونه، خُلې او ښپې وينځلې نو مرض کافي ټيک شو (يعنې کمے پکښې راغلے)- هم دغه ډاکټر د خپلې مقالې په آخره کښې دا خبره منې: چې **په مسلمانانو کښې د مايوسئ مرض کم وي ځکه چې هغوئي په ورځ کښې څو ځل لاسونه، خُله او ښپې وينځي (يعنې اودس کوي) -**

---

[1]... وضو اور سائنس ، صفحہ 1: ۔

## د اودس سائنسي برکتونه

اَلْحَمْدُلِلّٰه! په اودس کښې د اوسیدو په برکت سره د ډیرو بیمارو نه حفاظت کیږي مثلاً:

❁ په اودس کښې د اوسیدو په برکت سره هائي بلډ پریشر قابو کیدے شي ❁ **په اودس کښې د لاس وینځلو په برکت سره:** (1): په لاسونو باندې د ګرمکو راختلو (2): د خرمن د خارښ، (3): ایګزیما وغیره بیمارو نه حفاظت ممکن دے- په اودس کښې خُلې ته د اوبو اچولو او د مسواک په برکت سره (1): د ایډز په شان د تکلیف رسوونکې بیمارئ (2): د وَخکو د شلیدو (3): د معدې د مرضونو (4): د بلغمي بیمارو نه حفاظت کیږي او د غړ غړو په برکت سره د مرئ د مرضونو نه تر ډیره حده پورې بچ وي، دغه شان پوزې ته د اوبو اچولو په برکت سره ❁ د پوزې د بے شمیره پټو مرضونو ❁ د دائمي نزلې، د پوزې د زخم وغیره نه حفاظت کیدے شي ❁ په اودس کښې د مخ د وینځلو په برکت سره د الرجي نه د مخ حفاظت کیږي، د ده مساج کیږي، وینه د مخ په لور روانه شي، خیرے وغیره ترې لرې کیږي او د مخ ښکلا یو په دوه شي ❁ په **سنګل** باندې درې غټ رګونه دي د کومو تعلق چې د زړه، ځیګر او دماغو سره دے او د بدن دا حصه عام طور پټه وي که چرې په دې باندې اوبه او هوا نه لګي نو ګڼ شمیر دماغي او اعصابي مرضونه پیدا کیدے شي- **په اودس کښې د سنګلو پورې د لاسونو وینځلو سره زړه، ځیګر او دماغو ته توان میلاؤیږي** ❁ د سر او د ښټ ترمینځه **حَبلُ الوَرِید** یعنې شا رګ دے د ده تعلق د ملا د تیر د هډوکې او حرام مَغز او د بدن د ټولو جوړونو سره دے- کله چې اودس کوونکے د ښټ مسح کوي نو د لاسونو په ذریعه برقي رَو ووځي او په شا رګ کښې ذخیره کیږي او د ملا د تیر د هډوکې نه د تیریدو سره د بدن

په ټول اعصابي نظام کښې خوريږي او د دې نه اعصابي نظام ته توان حاصليږي ❀ په اودس کښې د سُنَّت مطابق د ښپو وينځلو سره د خوب د کمې، د دماغو د خُشکئ، د ويرې او مايوسئ په شان خطرناک مرضونه لرې کيږي- [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اندازه اولګوئ! د اودس څومره ښکلي برکتونه دي- الله پاک دې مونږ له هميشه په اودس کښې د اوسيدو توفيق راکړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

راځئ! په آخره کښې د اودس يو څو آداب زده کوؤ:

## د اودس د يو څو آدابو بيان

د اودس فرائض: په اودس کښې 4 فرائض دي: (1): د سنګلو پورې لاسونه وينځل (2): مخ وينځل (3): د سر د څلورمې حصې مسح کول (4): او د ګيټو سره ښپې وينځل- د دې اندامونو پوره وينځل فرض دي- که چرې د يو ويښته همره ځائے هم وَچ پاتې شي نو اودس به نه کيږي او که اودس اونشو نو لمونځ به هم نه کيږي- ځکه اودس ډير په احتياط سره کول پکار دے ❀ بلکه مستحب (يعني د ثواب کار دے) چې خاص طور په يخنئ کښې د اودس نه مخکښې د اودس اندامونه د تيلو په شان په اوبو غوړ کړے شي، د دې سره به د خرمن وچ ځيونه لمده شي او اوبه به په آسانئ سره ټولو ځيونو ته اورسي ❀ خو ياد ساتئ! په اوبو باندې د غوړولو سره به اودس نه کيږي- په اودس کښې د اندامونو وينځل فرض دي او د وينځلو مطلب دے: چې د اوبو کم نه کم 2

[1]... وضو اور سائنس ، صفحہ:10تا 16ملتقطًا۔

خاڅکي اوبهيږي ❁ په اودس کښې 14 سُنَّت دي، کوم چې شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په رساله **وضو کا طريقه** کښې ليکلي دي، هلته ئې اوګورئ او ياد ئې کړئ! او په دې باندې عمل اوکړئ او ثواب اوګټئ! ❁ کله چې هم اودس کوئ، د دې نه مخکښې نيت اوکړئ چې د پاکئ حاصلولو او د ثواب ګټلو د پاره اودس کووم- ياد ساتئ! د نيت کولو نه بغير به هم اګر چې اودس اوشي خو ثواب به نه ميلاؤيږي ❁ اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اودس د پاره نيت کول سُنَّتِ مؤکده دے، څکه که د نيت نه کولو عادت جوړ کړے شو نو ګناه به وي-[1]

❁ چا چې د بِسمِ الله وئيلو سره اودس اوکړو د هغه د سر نه تر ښپو پورې ټول بدن پاک شو او چا چې بغير د بِسمِ الله وئيلو نه اودس اوکړو د هغه به هغه همره بدن پاک شي په کوم باندې چې اوبه تيرې شوې-[2]

❁ په يو حديثِ پاک کښې دي: کله چې تهٔ **اودس** کوې نو بِسْمِ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰه وايه تر څو پورې چې ته په اودس کښې ئې نو تر هغه وخته پورې به ستا فرښتې (يعني كِراماً كاتِبِين) ستا د پاره نيکئ ليکي-[3] څکه چې کله هم اودس کوئ، په شروع کښې بِسْمِ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰه هيڅکله هم مه هيروئ- د اودس نه پس دُعاګانې هم يادې کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغې به هم ثواب ميلاؤيږي-

❁ په **حديثِ** پاک کښې دي: چا چې په صحيح طريقې سره اودس اوکړو او بيا ئې د

---

[1]... فتاوىٰ رضويه، جلد: 1، صفحه: 914، بتغير قليل-
[2]... سنن دارقطنى ، كتاب الطهارة، باب التسمية على الوضوء، جلد: 1، صفحه: 52، حديث: 229-
[3]... معجم صغير، صفحه:168، حديث: 196-

آسمان طرف ته مخ کړو او کَلِمهٔ شهادت ئې اولوستله د هغه د پاره د **جنت اته واړه دروازې بيرته کولے شي** په کومه چې غواړي دننه دې لاړ شي- (1)

✿ په يو حديث شريف کښې دي: څوک چې د اودس نه پس **يوځل** سُوْرَةُ الْقَدْر اولولي نو هغه د صِدِّيقن نه دے او څوک چې ئې 2 **ځله اولولي** نو هغه به په شهيدانو کښې شميرلے شي او څوک ئې چې 3 **ځله** اولولي نو الله پاک به د حشر په ميدان کښې هغه د خپلو انبيائے کرامو سره ساتي- (2) په لوټا وغيره باندې د اودس کولو نه پس پاتې شوې اوبه په ولاړه ځکلو کښې شفا ده- (3) په يو حديث کښې روايت کړے شوي دي چې د مؤمن د اودس نه په پاتې شوؤ اوبو ځکلو کښې د 70 بيمارو نه شفا ده او د دې بيمارو د کمو نه کمه درجه غم دے- (4)

✿ حُجَّةُ الاسلام امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ✿ مؤمن بنده له پکار دي چې کله مخ وينځي نو نيت دې کوي چې د دُنيا نه د مخ اړولو سره به هميشه د رَبِّ کريم په لور متوجه يم (5) ✿ کله چې لاسونه وينځي نو نيت دې کوي چې د ګناهونو نه به بچ کيږم د پاره د دې چې عمل نامه په ښي لاس ميلاؤ شي ✿ د سر مسح چې کوي نو نيت دې کوي چې هميشه به په عاجزئ سره سر ښکته ساتم، چرې به هم تکبر نه کووم چې آخرت خاص د هغوئي د پاره دے، څوک چې په دنيا کښې لوئي نه غواړي ✿ دغه شان

---

[1]... دارمی ، کتاب الوضوء، باب القول بعد الوضوء، صفحه:208، حديث: 720-

[2]... کنز العمال، کتاب الطہارۃ، الفصل الثانی فی آداب الوضوء، جز:9 ،جلد:5، صفحه:132، حديث:26085-

[3]... جنتی زيور، صفحه:216ماخوذاً-

[4]... مسند فردوس، جلد:2، صفحه:362، حديث:3617-

[5]... احياء علوم الدين، کتاب اسرار الطہارۃ، کيفية الوضوء، جلد:1 ، صفحه:179-

چې کله لاسونه وينځې نو نيت دې کوي چې چرې به هم د ګناه په لور نه ځم او هغه ورځ دې رايادې کړي چې په دې ښپو باندې د تللو سره د الله کريم په حُضُور کښې وړاندې کيدل دي- داسې دې په پل صراط باندې تلل هم ياد کړي- [1] ❁ اودس مو اوکړو، اوس که چرې مکروه وخت نه دے نو 2 رکعته تَحِيَّةُ الوضو هم اوکړئ چې په حديثِ پاک کښې دي: د دوارو جهانونو مالک او مختار، مکي مدني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: داسې څوک مسلمان نشته چې اودس اوکړي نو ښه ئې اوکړي بيا اودريږي او ښه په عاجزئ سره 2 [رکعته] نفل اوکړي نو د ده د پاره جنت واجب شي- [2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث شريف لاندې ليکي: د حديث مطلب دا نه دے چې صرف د اودس کولو او د تَحِيَّةُ الوضو د 2 رکعته نفلو کولو سره جنتي شو اوس د څه عمل ضرورت پاتې نه شو بلکه مطلب دا دے چې په ښه طريقه د اودس کولو او د تَحِيَّةُ الوضو د نفلونو ادا کولو په برکت سره په دُنيا کښې د نيکو عملونو کولو توفيق ميلاؤيږي، د مرګ په وخت په ايمان باندې قائم پاتې کيږي، په قبر او حشر کښې په آسانئ سره پاس کيږي- د دې قِسمه حديثونو هم دا مطلب وي- [3]

بلاحساب ہو جنت میں داخلہ یارب!
پڑوس خلد میں سرور کا ہو عطا یارب!

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

1... سلوة العارفين، باب الطهارة ، صفحه:165 ـ
2... مسلم، کتاب الطهارة، باب الذکر المستحب عقب الوضوء، صفحه:109، حديث:234-
3...مرآة المناجيح، جلد: 1، صفحه:237 بتقدم وتاخر-

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره رساله مطالعه

اے عاشقانِ رَسُول! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د فتنو نه ډک په دې اوسني دور کښې د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي په زړونو کښې د عشقِ رسول رابيدارولو، د نيکئ دعوت ورکولو او د اُمَّت نيک لمونځ ګزاره جوړولو په کوشش کښې مصروف دے، تاسو هم د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ، په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه واخلئ! اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيم! د دين او دُنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **هفته واره رساله مطالعه** هم ده- راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## غير مسلمه مسلمان شو---!!

د هندوستان د يو اسلامي ورور خه داسې بيان دے: زه د کُفر په تيارو کښې ورَک ووم، يوه ورځ چا د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه رساله **احترامِ مسلم** په تحفه کښې راکړه ما چې اولوستله نو حيران پاتې شوم چې کومو مسلمانانو ته ما د نفرت په نظر کتلي دي د هغوئي مذهب **اسلام** دومره د امن پيغام ورکوي! د رسالې ليک په ما باندې ډير اثر اوکړو او په زړه کښې مې د اسلام ميني کور اوکړو- يوه ورځ ما په بس کښې سفر کولو چې د يو خو ګيرې والوؤ او عمامو والوؤ اسلامي ورونړو قافله هم په بس کښې کښيناسته، ما چې ورته اوکتل نو پته راته اولګيده چې دا مسلمانان دي، زما په زړه کښې د اسلام سره مينه د مخکښې نه پيدا شوې وه ځکه ما د احترام په نظر هغوئي ته کتل، په دې کښې يو اسلامي ورور د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې نعت شريف

لوستلو، زما د هغه انداز ډير خوښ شو، زما دلچسپي چې ئې اوليده نو په هغوئي کښې يو کَس زما سره خبرې اترې شروع کړې- هغه ته پته اولګيده چې زه مسلمان نه يم، هغه په مُسکا شو او په زړه راښکونکي انداز ئې ما ته اووئيل، زه تاسو ته د اسلام راوړلو خواست کووم، ما رساله **احترامِ مسلم** لوستلې وه او د وړاندې نه مې په زړه کښې د اسلام سره مينه پيدا شوې وه، د هغه د مينې نه ډک انداز په زړه باندې نور هم اثر اوکړو او **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** ما کلمه اووئيله او مسلمان شوم-

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کردیا دیکھو | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کردیا دیکھو

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** دعوتِ اسلامي د عِلمِ دين په فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت) دے- دا ايپلي کيشن په ***Android*** او ***IOS*** دواړه قِسمه ډيواسز کښې په آسانئ سره ډاؤن لوډ کيدے شي، په دې موبائل ايپلي کيشن کښې په مختلفو موضوعاتو باندې د پوښتلے شوؤ سوالونو جوابونه په آډيو، ويډيو او ليکلي شکل کښې موجود دي ❀ د تجارت حکمونه ❀ د فرض علمونو کورس ❀ او تجارت کورس هم په دې ايپلي کيشن کښې شامل دے-

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند

د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د زُلفو او د سر د ويښتو سُنَّت او آداب

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: د چا چې ويښته وي هغه دې د هغې اِکرام اوکړي- [2] يعني هغه دې وينځي، تيل دې ورکوي (يعني غوړوي دې) او ګمنځوي دې-

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُلفان مُبارک به کله د غوږونو مبارکو د نيمې پورې ❁ کله به د غوږونو مبارکو د آخرئ حصې پورې او ❁ بعضې وخت به چې غټ شو نو د اوګو مبارکو يعني د اوګو مبارکو سره به ئې لګيدل ❁ مونږ له پکار دي چې موقع په موقع درې واړه سُنَّت ادا کړو، يعني کله د غوږونو د نيمې پورې، نو کله د دواړو غوږونو پورې او کله تر اوګو پورې ويښته اوساتو ❁ بعضې خلق (په ويښتو کښې) نيغه يا اُلټا لاره (کرښه) اوباسي دا د سُنَّت خلاف کار دے ❁ سُنَّت دا دي چې که چرې په سر باندې ويښته وي نو په مينځ کښې ئې لاره (کرښه) ويستلے شي ❁ د نارينه سره اختيار دے چې د سر ټول ويښته اوخَرَئي يا ئې غټ کړي او په مينځ کښې ئې لاره (کرښه) اوباسي ❁ حضرت اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: خوږ آقا، د مديني

---

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]... ابو داؤد، كتاب الترجل، باب فى اصلاح الشعر، صفحه:653، حديث:4163 ۔

والا مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په سر مبارک اکثر تيل لګول (يعني وينښته به ئې غوړول) او ګيره مبارکه به ئې اکثر ګمنځوله او اکثر به ئې په سَر مُبارک باندې کپړه کيښودله (يعني سر مُبارک به ئې پټولو) تر دې پورې چې هغه کپړه به په تيلو باندې لمده شوه- [1]

| | |
|---|---|
| تيل کی بُوندیں ٹپکتی نہیں بالوں سے رضا | صبحِ عارِض پہ لُٹاتے ہیں ستارے گیسو |

**وضاحت:** اے رضا! د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو زلفو نه چې کوم تيل راڅاڅي، ما ته خو دا نظاره داسې ښکاري لکه چې د ستورو نه ډکه شپه د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې، په رُخِ وَالضُّحیٰ باندې ستوري شيندي-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنْ شَآءَ الله سر بَسَر |
| جو بھی شیدائی ہے مدنی قافِلوں کا یاخدا! | دوجہاں میں اُس کا بیڑا پار فرما یاخدا! |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ... 550 سنتيں اور آداب ، صفحہ:41 تا43 ملتقطاً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾د شپږ لا كه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧
2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١۴٩
3... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰
2... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵
3... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵